جنوبي وزیرستان: د ترهګرۍ لویه منصوبه ناکام کړي شوی ده

د جنوبي وزیرستان په منره سیمه کې د امنیتي ځواکونو لخوا د استخباراتي معلوماتو په اساس کامیاب عملیات ترسره کړي شوي دي۔ له چاودېدونکو توکو ډک د یوې سترې ترهګریزې پروژې لپاره تیار کړي شوي ګاډی برآمد کړي شوي۔

د تفصیلاتو له مخې، ترهګرو د چاودیدونکو توکو څخه ډک موټر په واسطه مهم تاسیسات په نښه کولو چمتوالی نیولی وو۔امنیتي ادارو پر وخت اقدام وکړ او د چاودیدونکو توکو، ځمکني ماینونو، د هاوان مرمۍ او د چاودیدونکو توکو د جوړولو وسایلو څخه ډک یو سلنډر یې ترلاسه کړ۔

امنیتي ادارې د ترهګرو په وړاندې د غوره تګلارو سره په پرله پسې توګه بریاوې ترلاسه کوي چې پکې عام خلک مهم رول لوبوي۔ ان شاءالله ډیر ژر به خوارج خپل وحشتناک انجام ته ورسیږي۔